HAYAT FOUNDATION

ماهنامه

# حراء

Monthly

# Hera

میاشتنی

INSPIRED Foundation



آیا شیوه ذبح اسلامی حیوانات ظالمانه است؟

د کال بهتريني شپې

غربي هېوادونه: مصروفه ژوند او اختر، څنګه يې تنظيم وکړو؟

Contact us:
+44 7459 561846
hayatfoundationuk
hayatfoundationuk
HayatMarefat

Office:
HomeFix Extra
336-340 High Road
Harrow Weald,
HA3 6HS

ماهنامه
حراء
Monthly Hera
میاشتنی
ماهنامهٔ تربیتی، علمی و دینی

شنبه د ۱۴۰۴ هـ ل د جوزا ۱۱مه د ۱۴۴۶ هـ د ذي الحجې ۴مه، د ۲۰۲۵د جون لومړۍ
پنځم کال نهمه ګڼه

HAIAN FOUNDATION
Registered Charity in the UK
Reg No: 1145407

## اصطلاحات اسلامی و احکام ان

### قرآن کریم

﴿فصل لربك وانحر﴾.
( الكوثر :2)
خاص برای پروردگارت نماز عید را بخوان وشتر را قربانی کن

### حدیث

پیغمبر ﷺ میفرماید:
" من كان له سعة ولم يضح فلا يقربن مصلانا"
مسلمانی که توانایی قربانی کردن را دارد وقربانی نکند، پس به مصلی وعیدگاه ما مسلمانان نزدیک نشود.

### فقه

وجوب وسنت بودن قرباني نظر به توانايي مالي انسان تعلق دارد، هفت نفر یا کمتر از آن از اهل یک خانوانده شرعا حق دارند که در قرباني شتر ویا گاو شریک شوند، اما در قرباني گوسفند شریک شده نمي توانند، یک رأس گوسفند ویا بز را تنها یک فرد عاقل وبالغ خانواده قرباني میکند ودیگران را در اجر وثواب آن شریک میسازد

## سرمقاله

### د اختر په خوښۍ کې خپل بې وزله هېوادوال مه هېروئ

اختر هغه خوږه کلمه ده چې په اورېدو يې لوی، واړه، غريب او خان د خوښۍ احساس کوي خو په خوار افغانستان کې سږ کال يوځل بيا د تېرو کلونو په شان، يوشمېر هيواد وال د اقتصادي ستونزو له امله د قرباني د نه کولو څخه اندېښنه لري او وايي چې د تېرو کلونو په پرتله د څارويو بيې دوه برابره لوړې شوې دي.

بلخوا بېلابېلو نړيوالو سازمانونو په خلونو په خپلو راپورونو کې افغانستان کې د اقتصادي وضعيت پر خرابېدو د اندېښنې په ښودلو سره ويلي چې افغانستان کې د بې‌وزلۍ، بې‌کارۍ او د خلکو د اړتيا کچه په بېساري ډول لوړه شوې.

د ملګرو ملتونو د راپورنو پر بنسټ همدا مهال له ۱۵ څخه تر ۲۰ مليونه پورې افغانان د خوراک لپاره کافي خوراکي توکي نه لري، له ۱.٦ څخه تر ۲ مليونه پورې ماشومان داسې دي که د سوء تغذي لپاره کافي خوراک ورته ونه رسېږي نو په سوء تغذي به اخته شي.

په داسې يو هېواد کې چې هر دوه يم کس يې د بېګاه ډوډۍ وس ونه لري، زمونږ او ستاسو مسؤوليت څه دی؟

واقيعت دا دی چې زمونږ هېوادوال پر مونږ او تاسو او پر هر هغه چا د لاسنيوي حق لري چې د څو وخته ډوډۍ او يا هم د مياشتو او کلونو پس انداز لري.

آيا هغه حديث مو ياد دی چې الله به خپلو بنده ګانو ته وايي چې زه وږی شوم نو تاسو ماته هېڅ رانکړل؟ نو بنده به ورته وايي ياربه ته خو ستر ذات يې ته څنګه وږی شوې؟ الله جل جلاله به ورته وايي ولې زما فلانی بنده وږی و که ته هغه ته ورغلی وی او طعام دې ورکړی نو زه به دې هلته ميندلی و، ددې مطلب دا دی چې که څوک غواړي الله تعالی يې مل او ملګری شي هغه ته ورسېږي او د هغه رضا ترلاسه کړي نو بېوزله ته دې ډوډۍ ورکړي، هغه ته دې جامې ورکړي او د هغه نورې اړتياوې دې پوره کړي.

په اوس وخت کې چې په افغانستان کې د فقر او بېوزلۍ يادونه مو پورته وکړه هغه موارد چې د الله رضا پرې ترلاسه کړي تول په افغانستان کې له بېوزلو سره په لاسنيوي کېږي.

راځئ د قرباني به دې اختر کې خپل بېوزله هېوادوال هېر نکړو د خپل وي مطابق د يتيمو، کونډو او بې وسه هېوادوالو په لاسنيوي د خپل رب رضا ترلاسه کړو، خپلې ټولې قربانۍ افغانستان کې وکړو او هلته د هغه کورنيو په شوندو مسکا راولو چې په ټول کال کې يې ماشومانو په مړه ګېډه سپوره ډوډۍ نه ده خوړلې ، او دغسې بې وزله کورنيو ته د خپلو قربانيو په وېش سره د هغوی دعاګانې خپلې کړو

هیئت مدیره
نور عالم حکیمیار | علاء الدین رحیق | شجاع مستقل

### په دې ګڼه کې:

| | |
|---|---|
| قرباني په چا واجب ده؟ \\\ آیا شیوه ذبح اسلامی حیوانات ظالمانه است؟/// | ۳ |
| د کال بهترینې شپې / چگونه دهه مبارک ذوالحجه را برای خود پُربار سازیم؟ | ۴ |
| غربي هېوادونه: مصروفه ژوند او اختر، څنګه يې تنظيم وکړو؟ | ۵ |
| THE DAY OF ARAFAH & EID AL-ADHA | ٦ |
| Eid al-Adha: What is Qurbani? Why Muslims sacrifice livestock, explained | ۷ |

تاسو کولی شئ حرا مجله له لاندي ادرسونو څخه لاس ته راوړئ

**London:**

- Value 4 Money, 66 Golden Green Rd, London NW11 8LN
- Max Savers, 8082- High Street EN8 7BU
- HomeFix Extra,336340- High Road, Harrow Weald, HA3 6HS
Mob: 07459561846

**Manchester:**

Kamal Exchange, m10&13 salad lane, Longsight, Manchester 13 0QE.
Mob: 7988807237

# قرباني په ټوله کورنۍ واجب ده که د کور په مشر؟

پوښتنه:
په دې هيله چې روغ وئ، موږ د څلورو ورڼو يوه کورنۍ يو چې درې ورونه واده شوي دي چې يو له موږ څخه جدا شوى دى او خپل عايد هم له موږ سره نه شريکوي او نور ورونه سره يوځاى دي او مور او پلار سره اوسېږو، زموږ ټولو ښځې له اووتولو څخه زيات سره زر لري اوس تاسو ووايئ، چې حصې قرباني وکړو، چې کم تر کمه زموږ غاړه پرې خلاصه شي.

ځواب:
السلام عليكم ورحمة الله وبركاته
د هر موسم لپاره الله جل جلاله خپل اعمال خاص کړي دي چې په هغه موسم کې زيات اجر او ثواب لري، د مثال په توګه د روژې لپاره د رمضان مياشت، د قربانۍ لپاره لوى اختر، رسول الله صلى الله عليه وسلم په دې اړه فرمايي "ما عمل ابن آدم يوم النحر عملا أحب إلى الله من هراقة دم" ژباړه: د لوى اختر په ورځ انسان د ځاروي د وينو توېولو نه بل غوره عمل نشي کولاى" يعنې په دې ورځ د قربانۍ کولو څخه بل غوره عمل په اجر او ثواب کې نشته.
او يو بل مبارک حديث کې راځي "ما هذه الأضاحي ؟ قال : سنة أبيكم إبراهيم ، قالوا : مالنا منها ؟ قال : بكل شعرة حسنة ، قالوا : فالصوف ؟ قال : بكل شعرة من الصوف حسنة" ژباړه: صحابه کرامو له رسول الله صلى الله عليه وسلم نه د قربانيو په هکله پوښتنه وکړه نو رسول الله صلى الله عليه وسلم ورته وفرمايل چې دا ستاسې د پلار ابراهيم عليه السلام طريقه ده، صحابه کرامو وويل چې موږ ته په دې کې څه اجر شته نو رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل چې تاسې ته د ځاروي په هر ويښته باندې يو اجر او نيکي درکول کېږي.
داحنافو په نزد په صاحب نصاب او مالدار باندې قرباني واجب ده، يعنې يو کس چې دخپلو مصارفو نه اضافه د ۵۹۵ ګرامو سپينو زرو په اندازه مال ولري، پر هغه قرباني واجب ده، که هغه ښځه وي او که نارينه، خو دنورو مذاهبو علماء وايي چې قرباني مؤکد سنت دى او هر څوک چې دقربانۍ وس ولري، ولو که دنصاب څښتن نه وي نو قرباني دې وکړي، لکه دسرسايې (صدقه فطر) په څير.
په هر صورت داحاديثو په رڼا کې هغه کسان چې ديوې کورنۍ وي او يوځاى اوسيږي (اهل بيت) دهغو لپاره يوه قرباني هم کفايت کوي، که دکور مشر (پلار) قرباني وکړي نو دټولو هغه فاميل لپاره ده چې نفقه يې سره يوځاى ده، لکه ښځه، زوى، لور، نيکه، نيا، لمسيان، نګور، او داسې نور، خو هغه اولاد چې جلا اوسيږي او نفقه يې ځان ته وي، هغه په دې قربانۍ کې نه شي شريکيدلاى، نو ديو فاميل لپاره يو پسه (ګډ) هم کفايت کوي: عن عَطَاء بْن يَسَارٍ قال : سَأَلْتُ أَبَا أَيُّوبَ الأَنْصَارِيَّ كَيْفَ كَانَتْ الضَّحَايَا عَلَى عَهْدِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ؟ فَقَالَ : كَانَ الرَّجُلُ يُضَحِّي بِالشَّاةِ عَنْهُ وَعَنْ أَهْلِ بَيْتِهِ ، فَيَأْكُلُونَ وَيُطْعِمُونَ . صححه الألباني في صحيح الترمذي .
عطاء بن يسار وايي: ما له ابو ايوب انصاري رضي الله عنه نه پوښتنه وکړه چې درسول الله صلى الله عليه وسلم په زمانه کې به قرباني څنګه وه؟ هغه وويل: يو سړي به يو پسه (ګډ) دځان او خپل فاميل له لوري قرباني کړ، چې دوى به هم ترې وخوړلو او نوروته به يې هم ترينه ورکړ.
خو که څوک له يوې زياتې قربانۍ وکړې او دکور دځو کسانو او ياټولو لپاره جلاجلا قرباني وکړي، نو جواز لري او ډير اجر پکې دى، خو يوه قرباني هم کفايت کوي.

# آیا شیوه ذبح اسلامی حیوانات ظالمانه است؟

سوال:
چرا مسلمانان حیوانات را به طریقه ی ظلمانه و با شکنجه، به آهستگی و با درد ذبح می کنند؟

جواب:
طریقه ی اسلامی کشتن حیوانات که ذبحیه گفته می شود، موضوع قابل انتقاد نزد تعداد زیاد اشخاص قرار گرفته است. با دقت به نکات ذیل ثابت می شود که طریقه ی ذبح اسلامی نه تنها طریقه ی مهربانی و انسانی است بلکه موافق اصول علمی نیز می باشد:
1. طریقه ی اسلامی ذبح حیوانات
ذکیتم فعلی است که از ریشه ی لغت ذکوة که به معنای پاک کردن است و مصدر آن تذکیه که به معنای تطهیر و پاکسازی است اشتقاق یافته. طریقه ی اسلامی ذبح حیوانات باید مطابق شرایط زیر باشد:
حیوان باید با وسیله ی بسیار تیز (کارد یا چاقو) ذبح شود
حیوان باید با یک وسیله ی تیز مانند کارد یا چاقو ذبح شود و عمل ذبح بسیار سریع صورت گیرد تا دردِ کشتار به حد ممکن کاهش یابد.

**نای، گلو و رگ های گردن قطع گردند**

ذبیحة کلمه ی عربی بوده که به معنای کشته شده است. در کشتار باید گلو، نای (لوله ی هوا) و رگ های خون از قسمت گردن قسمی بریده شوند که سبب مرگ حیوان شود بدون اینکه نخاع شوکی قطع گردد.

**خون حیوان باید کاملا از بدن بریزد**

قبل از اینکه سر حیوان از بدن او دور شود باید خون کاملا بیرون بریزد. مقصد اینست که قسمت زیاد خون که محیط خوب پرورش مکروب ها و باکتری ها است از وجود حیوان خارج شود و نخاع شوکی نباید قطع گردد زیرا رشته های اعصاب قلب ممکن در جریان این پروسه از بین رفته و سبب توقف حرکات قلبی شود که در نتیجه خون در رگ ها باقی بماند.

**خون محیط خوب برای رشد مکروب ها و باکتریاها است**

خون وسیله ي خوب رشد مکروب ها، باکتریا، زهریات... می باشد. از همین سبب طریقه ی ذبح اسلامی بیشتر صحی است زیرا مقدار زیاد خون حاوی مکروب ها، باکتریا ها، زهریات وغیره که منجر به مبتلا شدن امراض گوناگون می گردد از بدن حیوان زدوده می شود.

**گوشت زمان بیشتر تازه باقی می ماند**

گوشت حیوانی که به طریقه ی اسلامی ذبح می شود برای زمان بیشتری بنا بر نکس خون موجود در گوشت نسبت به دیگر طریقه های کشتار تازه باقی می ماند.

**حیوان احساس درد نمی کند**

بریدن سریع رگ های گردن جریان خون عصب مغز را قطع می کند که مسوول درد در وجود حیوانات است و از همین سبب حیوان درد احساس نمی کند. هنگام مرگ حیوان کشمکش می کند، پیچ و تاب می خورد، می لرزد و لگد می زند؛ البته نه از سبب شدتِ درد بلکه از سبب انقباض و آرامش عضلات خالی از خون و خارج شدن خون از بدن حیوان.
منبع:کتاب : 20 جواب به سوالات غیر مسلمانان در باره ی اسلام
نویسنده : داکترعبدالکریم ذاکر نائیك
مترجم : احمد مسیح "فضل"

# آیا می توان بهای حیوان قربانی را صدقه داد و خیرات کرد؟

سوال:
کدام بهتر است؟ صدقه دادن پول قربانی، یا ذبح حیوان قربانی وتوزیع گوشت آن؟
جواب:
نسبت به قربانی توسط شخص که زنده است ذبح حیوان بهتر است، زیرا ذبح حیوان یکی از شعائر است، وموجب تقرب به دربار خداوند متعال خواهد بود،
(فصل لربک وانحر) (بر ای پروردگارت نماز بگزار وقربانی کن) ماهم عمل قربانی را انجام می دهیم به پیروی از سنت پدرمان ابراهیم (ع) ویاد آوری آن واقعۀ مهم که راجع به قربانی ابراهیم روی داد آن هنگام که در خواب به اووحی شد که فرزندش اسماعیل را قربانی کند، و اوهم فرمان وحی را اجابت کرد، این روز، روزبروز یک قهرمانی جاویدان در صحنۀ تاریخ امت اسلامی است که خداوند متعال با قرار دادن شعار قربانی در مناسک حج آن خاطره را جاودان ساخته اند مسلمانان به یادآوری آن روز قربانی می کنند، واین یک سنت است، و ثواب وپاداش آن به مراتب بیشتر از تصدق دادن با بها وپول قربانی است.
اگر بنا باشد هرکس قیمت قربانی های خود را صدقه بدهد؛ این شعار مهم اسلامی، از رونق افتاده و از میان خواهد رفت اسلام خواهان این است که چنین شعار ونُسُکی احیا گردد؛ بنابراین، شکی نیست که قربانی کردن ثوابش بیشتر است.
البته این نسبت به شخص زنده است، یعنی کسی که برای خود وفرزندانش قربانی کند. ولی، اگر کسی برای درگذشتگان قربانی کند، وبخواهد که ثواب آن را در قبربه شخص میت هدیه نماید، چه کار کند؟ آیا حیوان را ذبح کند؟ یا اینکه پول آن را به فُقرا صدقه نماید.
قولی که مورد ترجیح من است وقلبم بدان قانع می گردد این است که در شهری که ذبح حیوانات قربانی در آن فراوان ومردم بی نیاز از گوشت باشند، دراین صورت، صدقه وخیرات با پول قربانی، برای میت بهتر است... زیرا مردم همه از لحاظ گوشت برخوردارهستند واکثر مردم [مگربه ندرت]، در روز عید ودو روز بعد از عید بی نیاز از گوشت هستند؛ ولی شاید بتوان گفت که بیشتر مردم نیاز مند پول باشند تا با آن بتوانند لباسی برای دخترانشان، یا اسباب بازی برای پسرانشان یا شیرینی برای کودکانشان ویا... تهیه نمایند، آنان نیز نیاز به کسانی دارندکه در این ایام مبارک ایام عید وتشریق بر ایشان گشایشی ایجاد کنند؛ بنابراین، در امثال چنین شهرها یا کشورها صدقه با پول قربانی بهتر خواهد بود.
اما، در مناطقی که گوشت کم است، ومردم نیازمند گوشت باشند، در این صورت اگر مردم آنجا برای قربانی از جانب میت، حیوانی قربانی کنند، وبخاطر اجر ثواب برای درگذشتگان گوشت را تقسیم کنند، ثواب وفضیلت آن بیشتر است. نظر را جح ما در ارتباط با این موضوع همین است که بیان نمودیم .
واماز لحاظ تقسیم گوشت حیوان قربانی، معمولاً بهتر است که به سه قسمت تقسیم شود: یک سوم آن برای خود شخص وخانواده اش به دلیل نص (فکلوا منها) (از آن بخورید) ویک سوم دیگر آن برای همسایگان دور وبر او، مخصوصاً اگر تنگدست وبینوا باشند؛ ویک سوم بقیه برای فُقرا، البته، اگر تمامی گوشت ومتعلقات قربانی را صدقه دهد، ثواب آن بیشتر واز لحاظ فضیلت بهتر است. به شرط اینکه خود کمی از آن مثلاً جگر یا غیرآن را محض سنت وتبرک بخورد، تا مشمول آیه (فکلوا منها) گردد، چنانکه پیامبرص ویارانش چنین عمل میکردند.
منبع: دیدگاهی فقهی معاصر

# د کال بهترينې شپې

په قران کريم کې الله تعالی په سورة فجر کې د ذوالحجې په لومړيو لسو شپو باندې قسم خوړلی. الله تعالی فرمايې ( وليال عشر) او قسم مې دې وي په هغه لسو شپو د ذوالحجی باندې. په قران کريم کې چې الله تعالی په کوم شی باندې قسم کوي، نو دا دليل دی په عظيمت د هغه شي باندې لکه الله قسم کوي په زمانه باندې دلته پکې دزمانې اهميت معلوميږي. نو همدارنگه په دغه لسو شپو د ذوالحجی باندې هم الله قسم کړي دي چې دا ډيرې دعظمت شپې دي، اوس لسو شپو متعلق يو څه شيان دي چې بايد وشي ، او څه نه بايد ځان وساتل شي.

**لومړی: د دې لسو ورځو غوره والی.**

الله تعالی په قران کريم کې فرمايې({ وَأَذِّنْ فِي النَّاسِ بِالْحَجِّ يَأْتُوكَ رِجَالاً وَعَلَى كُلِّ ضَامِرٍ يَأْتِينَ مِنْ كُلِّ فَجٍّ عَمِيقٍ * لِيَشْهَدُوا مَنَافِعَ لَهُمْ وَيَذْكُرُوا اسْمَ اللَّهِ فِي أَيَّامٍ مَعْلُومَاتٍ } ( سورة الحج : الآيتان 27 28- ))

دلته ايام معلومات نه اکثر مفسرين وايې چې د ذوالحجی لومړی لس ورځې مراد دي، چې تاسو په دې ورځو کې داالله ذکر ډير زيات کوئ!

همدارنگه په گڼو نبوي احاديثو کې هم د دې لسو ورځو غوره والی ذکر شوي دی. رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايې. ( عن ابن عباس – رضي الله عنهما – أنه قال : يقول رسول الله صلى الله عليه وسلم : " ما من أيامٍ العمل الصالح فيها أحبُّ إلى الله من هذه الأيامِ ( يعني أيامَ العشر ) . قالوا : يا رسول الله ، ولا الجهادُ في سبيل الله ؟ قال : ولا الجهادُ في سبيل الله إلا رجلٌ خرج بنفسه وماله فلم يرجعْ من ذلك بشيء " ( أبو داود ، الحديث رقم 2438 ، ص 370 ))

ژباړه: له ابن عباس رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي: هيڅ داسې ورځې نشته چې نيک عمل پکې الله تعالی ته ددې ـ ذی الحجې ـ دلسو ورځوداعمالو نه غوره وي.

صحابوو عرض وکړه ، يا رسول الله ايا د جهاد نه هم افضل دی ـ دعامو ورځو جهاد ـ ؟

رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: هو دجهاد نه هم افضل دی ، مگر هغه مجاهد چې ځان او مال دواړه جهاد ته بوځي او يو هم رانه وړي ، يانې شهيد شي.

يعنې د دغه مجاهد په عامو ورځو کې شهادت د دې ورځو د اعمالو نه غوره دی.

**دويم: د دې وځې ځينې ځانگړتياوې دي.**

١: الله تعالی په دې ورځو باندې قسم کړی دی، لکه په وليال عشر کې.

٢: رسول الله صلی الله عليه وسلم يې په ډيرو احاديثو کې ددې لسو ورځو فضيلت ذکر کړی دی.

٣: په دغه ورځو کې خلکو ته په نيکو اعمالو کولو باندې تيزي ورکړل شوي ده ، ځکه د دې ورځو شرف د نورو ورځو څخه ډير زيات دی.

۴: په ورځو کې امر شوي چې بايد د الحمدلله ، سبحان الله او الله اکبر ډير زيات ذکر وشي.

۵: په دې ورځو کې يو ورځ د عرفې ورځ ده ، هغه ورځ چې داسلام مبارک دين پکې مکمل شوي دی.

٦: په دې ورځو کې موسم د قربانۍ او دحج وي ، چې دغه اعمال په نورو ورځو کې نه موندل کيږي.

٧: په دغه مبارکو ورځو کې هغه عبادات ترسره کيږي چې دعباداتو مور ورته ويلې شي. لکه : لمونځ ، روژه، صدقه ، حج او قربانی چې دغه عبادات په نورو ورځوکې نه جمع کيږي.

**دريم: په دغه ورځو کې بايد کوم اعمال ترسره شي.**

١: حج او عمره ادا کول په دغه ورځو کې چې اسلام يو رکن دي په دغه لسو شپو کې بايد ادا کړې شي، په بل وخت کې نه ادا کيږي.

٢: په دغه ورځو کې روژه نيول، په خاص ډول د عرفې د ورځې روژه چې ورسره د دوه کالو گناهونه معاف کيږي.

٣: د الله ذکر ، دعا او قران کريم زيات تلاوت کول. ځکه الله فرمايې( ويذکروا اسم الله فی ايام معلومات)

۴: په دې ورځو کې د ټولو گناهونو نه توبه ويستل، ځکه توبې سره انسان د گناهونو نه پاک کيږي.

۵: په دې ورځو کې زيات نوافل کول. لکه نفلي لمونځونه، صدقې ، تلاوت او داسې نور نفلی کارونه کول.

٦: په دې ورځو کې نيک اعمال کول ، ځکه نيک اعمال سړی الله ته نيزدې کوي.

**څلورم: ددې ورځو احکام.**

١: په دې ورځو کې تکبيرات ويل، چې دا تکبيرات بيا په دوه ډوله دي.

اول مطلق تکبيرات: چې د يو وخت او ځای پورې موقوف نه وي.

دويم: مقيد تکبيرات: هغه چې د پنځه وخته لمونځ نه پس لوستل کيږي.چې د عرفی په سهار پيل کيږي تر اخر دايام تشريق (اختر څلورمې ورځ ) ماذيگر پورې چې ٢٣ لمونځونه راځې.

٢: قرباني کول په دغه ورځو کې ، چې د دې هم ډيرزيات ستر اجر په احاديثو کې ذکر شوي دی.

# چگونه دهه مبارک ذوالحجه را برای خود پُربارسازیم؟

ضیاءاحمد فاضلی مسوول مدرسه احیاءالعلوم هرات.

**نخست باید قدر اوقات ویژه را بدانیم:**

رسول (ص) فرمودند: «در بستر عمرتان، همواره عمل صالح انجام دهید و خویشتن را در معرض فیضان رحمتهای الهی قرار دهید؛ چرا که خداوند فیضان های رحمت آسا دارد که هرکس از بندگانش را که خواسته باشد از آن بهره مند میگرداند». [معجم طبرانی با تحسین آلبانی]

فضیلت عمل صالح در دهه اول ذوالحجه:

پیامبر(ص) فرمودند: «عمل صالح در هیچ زمانی از ایام سال به نزد الله به اندازه این دهه دوستداشتنی نیست. [صحابه گفتند:] ای پیامبرخدا! آیا جهاد [سایرایام] هم بدان نمیرسد؟ فرمودند: جهاد سایر ایام هم بدان نمیرسد؛ مگر جهاد مردی که با جان و مال در راه الله بیرون شود و با هیچ یک برنگردد»[صحیح البخاری]

**سلف صالحین در این ایام چگونه بودند؟**

به طور نمونه میتوان از تابعی مشهور؛ سعیدبن جبیر نام گرفت. وی آنقدر در عبادت و عمل صالح تلاش میکرد که توانش به نهایت میرسد و می گفت: نباید چراغهای خانه ی تان در این شب ها خاموش شود.

**روزعرفه، نگین این دهه است:**

پیامبر(ص)در فضیلتش فرمودند: «الله متعال آنقدر که در روز عرفه بندگان را از آتش جهنم رهایی می بخشد در هیچ روزی از سال چنان نمیکند. خداوند به اهل عرفات نزدیک شده و بدیشان نزد فرشتگانش مباهات میکند و میگوید: اینان چه میخواهند؟» [صحیح البخاری]

**وظایف ما در این دهه:**

اول- توبه و استغفار نماییم: بیشک، روح وضمیرما به توبه واستغفار همان قدر نیاز دارد که جسم ما به آب و نان. پیامبرعزیزما با آن که خلعت عصمت را به تن داشتند، بازهم به کثرت استغفار میکردند. می گفتند: «به خدا سوگند که من روزانه بیش از هفتاد بار از خداوند طلب آمرزش کرده و توبه مي کنم». [صحیح البخاری]

دوم: ذکر ویاد الله را فراوان داشته باشیم: الله متعال، ذکر ویادش را یکی از حکمتهای مهم فراخواندن حاجیان به خانه اش عنوان کرده فرموده است: «لِيَشْهَدُوا مَنَافِعَ لَهُمْ وَيَذْكُرُوا اسْمَ اللَّهِ فِي أَيَّامٍ مَعْلُومَاتٍ» [الحج: 28] ترجمه: [به حج آیند] تا شاهد منافعی برای خود باشند و الله را در روزهای معین یاد کنند.

عبدالله بن عباس(رض) در تفسیر این آیه گفته است: «أَيَّامٍ مَعْلُومَاتٍ» در این آیه، دهه ی اول ذوالحجه است.

در صحیح مسنداحمد از رسول(ص) نقل است که فرمودند: «هیچ روزی به مانند این دهه وجود ندارد که نزد الله آنهمه با عظمت باشد و عمل صالح آن نزد الله آنهمه دوست داشتنی باشد؛ پس فراوان در آنها لا اله الا الله و الله اکبر و الحمد لله بگویید!» پس بکوشیم تا به فرموده ی پیامبر(ص) «همیشه زبان ما از یاد الله تر و تازه باشد» [سنن ترمذی]

سوم: قیام شبهای آن:

در فضیلت شبهای آن همین بس که الله بدانها سوگند یاد کرده فرموده است: «وَالْفَجْرِ ، وَلَيَالٍ عَشْرٍ وَالشَّفْعِ وَالْوَتْرِ». [الفجر: 3-1]

جابر(رض) از پیامبر(ص) نقل کرده است که منظور از: "الْوَتْرِ": روز عرفه و از "الشَّفْعِ": روز عید و از: "لَيَالٍ عَشْرٍ": دهه اول ذوالحجه است.

**چهارم: پابندی به نماز جماعت:**

خداوند به جماعتگزاران، پاداشی بیشتر از27 درجه نسبت به نماز تنهایی را وعده داده و مشتاقان مسجد را از هفت گروه بندگان برتر خویش در روز قیامت برشمرده که در سایه های پُرافتخار رحمت او قرار میگیرند و نور کامل در روز قیامت را بدیشان نوید داده است. پس باید در این روزها به نماز جماعت -با حفظ تدابیر وقایوی- بیشتر از دیگر ایام توجه داشته باشیم.

**پنجم: روزه های نفلی:**

پیامبر(ص) مژده دادند: «هرکس یک روز را در راه الله [یا به خاطر رضای الله] روزه گیرد، خداوند چهره اش را به فاصلة 70 سال از جهنم دور می سازد». [صحیح البخاری] از همین رو، پیامبر(ص) -طبق حدیث سنن نسایی- این دهه را همیشه روزه داشتند.

**ششم: روزه ی روز عرفه:**

بی شک، عرفه نگین این دهه است و می زیبد که خود را با روزه ی آن مزین سازیم. پیامبر(ص) در فضیلتش فرمودند: «توقع دارم که خداوند گناهان یکسال قبل و یک سال بعد روزه دار آن را ببخشد». [صحیح ترمذي].

**هفتم: اعطای صدقه در راه الله:**

پیامبر(ص)، صدقه را دلیل صدق ایمان مومن دانسته فرمودند: «وَالصَّدَقَةُ بُرْهَانٌ». [صحیح مسلم]

صدقه در این ایام فلاکتبار که ملت مظلوم ما را به ماتم نشانده است، بی،شک که سبب حصول خوشنودی الله متعال قرار خواهد گرفت.

**هشتم: رعایت اخلاق خوش:**

پیامبر(ص)در فضل آن فرمودند: «بی شک، بنده –اگر هم در عبادت ضعیف باشد- بااخلاق نیک، درجات بزرگ آخرت و منازل بلند را نصیب می شود؛ درحالی که با اخلاق بد، به پائین ترین درکات جهنم سقوط میکند. [الأحادیث المختارة بدرجه حسن]

پس در این ایام بکوشید برای همگان، اخلاق نیکو هدیه بدهید

**نهم: صداقت درکاروبار:**

آیا تا کنون می دانستید که در حدیث پیامبر(ص) «معامله گر صادق و امین در صف پیامبران، صدیقین وشهداء معرفی شده است». [سنن ترمذی]

پس به هیچ قیمتی، صدق و امانت داری را از دست ندهید.

خانواده مسلمان

************

# مسلمانه کورنۍ



# غربي هېوادونه: مصروفه ژوند او اختر، څنګه يې تنظيم وکړو؟

ليکنه: احسان الله الموسوي

په يو غير اسلامي هېواد، لکه انګلستان، کې د قرباني اختر له رخصتيو (که حتی يوه ورځ هم وي يا يوازې آخر هفتې کې وي) څخه غوره استفاده يو څه پلان ته اړتيا لري، ځکه دلته ډېرو مکاتبو او کاري ځايونو کې نه رسمي رخصتي وي او نه عمومي مذهبي فضا. دلته ځينې مؤثرې لارې درسره شريکوم چې اختر هم ولمانځو، هم له رخصتيو څخه معنوي، کورني او ټولنيز لحاظ اعظمي استفاده وکړو.

**۱- د وخت مديريت او مخکښې پلان:**

که رسمي رخصتي نه لرو، کوښښ وکړو مخکې له مخکې له کاري ځايه رخصتي واخلو، همداسې خپلو ماشومانو ته هم وواېو که چېرې مکتب مو د اختر لپاره رخصت نه وي نو خپل استاد يا مدير د مکتب ته د اختر باره کې وواېي او رخصتي واخلي. که همدا امکان نه وي، نو اختريز فعاليتونه د اخر د هفتې يا ماښام وختونو ته تنظيم کړو.

يو کوچنی پلان جوړ کړو، مثلاً:

اوله ورځ: په جماعي ډول له خپلو اولادون او د کورنۍ له مشرانو سره د اختر لمونځ کول، قرباني (که چا افغانستان کې نه بلکې د اوسېدو ځای کې يې کړې وي)، کورنۍ خواړه او له خپلې کورنۍ سره وخت تېرول.

دوهمه ورځ: ټولنيزه ليدنه او د دوستانو کورونو ته ورتلل، يا داسې چې ټول دوستان په يو رستورانت کې راغونډ شي، يو بل ته به د اختر مبارکي هم ورکړي ټول دوستان به هم ووينې او هم به د ماشومان لپاره اختريزې برنامې جوړې کړي، ترڅو له خپل فرهنګ او ديني رخصتيو خبر او وپوهول شي او په اخره کې به ټول په ګډه خواړه هم وخوري.

دريمه ورځ: چکر او معنوي فعاليتونه لکه دوستانو سره يو چېرته تلل او د قرباني غوښه بانې کباب کول، د قرباني غوښه صدقه کول او داسې نور نيک کارونه لکه: (تلاوت، صدقه، سپورت او داسې نور).

**۲- د کورنۍ او ماشومانو لپاره ځانګړې فضا جوړول:**

د مثال په ډول اولادونو ته نوي کالي او بوټان اخيستل کور، د نجونو لاسونه په نکريزو سره کول او داسې نور شيان تيارول چې ماشومان ورته خوشحاله کېږي او دا اختر او رخصتي ورته يو ځانګړتيا پيدا کړي، له دې اختر شپې خاطرې ولري او راتلونکي اختر ته سترګې په لار پاتې شي.

ماشومانو ته اختری، تحفې يا ځانګړې فعاليتونه او لوبې برابرول (لکه پارک ته تلل، د حلال خواړو رستورانت ته تلل، او داسې نور).

خپل افغاني کالي واغوندئ، تر څو خپل دود او کلتور ژوندی پاتې شي ولو که کور کې ياست.

**۳- قرباني، صدقه او د خير کارونه:**

که کولای شئ خپله قرباني په افغانستان کې له خپلو خپلوانو سره وکړئ نو دا به ډېره غوره وي، تر څو د قرباني غوښه غريبو او مستحقو خلکو ته ورسېږي. که ددې امکان نه وي بيا يو باور وړ خيريه بنسټ له لارې خپله قرباني لېږلی شئ لکه په انګلستان کې د حيات فونډيشن خيريه بنسټ او داسې نور.

او که غواړئ چې قرباني په انګلستان کې وکړئ بيا هم بايد له يو باوري حلال مسلخ ته د خپلې قرباني سپارښ مخکې له مخکې ورکړئ، ترڅو په وخت سره تاسو ته قرباني در ورسېږي.

د يادونې وړ ده چې مسلخ ته يادونه وکړئ چې ستاسو قرباني د اختر له لمانځه وروسته حلاله کړي او تاسو ته يې دروليږي.

اوغوښه يې په خپلو نږدې دوستانو، د اړمنو مسلمانانو يا نويو مهاجرينو سره يې شريکه کړئ. د ماشومانو سره يوځای صدقه ورکول هغوی ته هم عملي سبق ورکوو او راتلونکې کې يې په خپل ځان عملي کوي.

له هغو کسانو سره چې خفه ياسو بايد د اختر په ورځ خپل حسد او کينه د الله تعالی لپاره پرېږدو او له خفه شوي کس سره د اختر مبارکي او ستړي مشي وکړو.

**۴- غير مسلمان ګاونډيانو سره نيک چلند کول:**

يو کوچنی بکسه (خواږه يا خوندور خواړه) له "Eid Mubarak" يادښت سره ګاونډيانو ته ورکولای شئ.

دا يو ډول دعوت او د اسلام او مسلمانانو د ښېګڼو ښودنه هم ده.

**۵- معنوي او روحاني استفاده**

اختر د توبې، نيت نوي کولو، او خدای ته د رجوع وخت دی.

د اختر په ورځو کې دعا، تلاوت، استغفار، او د الله ذکر بايد زيات کړو.

د راتلونکې لپاره نيت او پلان جوړ کړو، مثلاً د حج نيت، صدقه، يا اسلامي زدکړو.

د قرباني اختر (عيد الاضحی) له رخصتيو څخه په غير اسلامي هېواد کې لمانځل يو څه ځانګړې تدبيرونه او پلان ته اړتيا لري، که په لنډ ډول دغه پلان شريک کړو نو کولی شو مونږ په لاندط ټکو کې يې را خلاصه کړو:

**۱. د قربانۍ کولو تنظيم**

که چېرې قرباني فزيکي توګه ممکنه نه وي، لاندې لارې غوره دي:

- آنلاين قرباني: له باور وړ اسلامي خيريه بنسټونو (لکه حيات فونډېشن، Islamic Relief، Muslim Aid، يا Helping Hand) سره له لارې قرباني وکړئ چې غوښه يې اړو کسانو ته ورسېږي.
- ځايي جوماتت يا اسلامي مرکز سره تماس: ځينې اسلامي مرکزونه دا اسانتياوې برابروي، يا يې مشوره درکولی شي.

**۲. د اختر لمونځ**

- که جومات ته لاسرسی لرئ: د اختر لمونځ هلته وکړئ، چې معنوي فضا ډېره وي.
- که نه: نو کورنۍ سره يو ځای په کور کې د اختر لمونځ وکړئ. سنت طريقه يې تعقيب کړئ.



**۳. کورنۍ او ټولنيزه فضا رامنځته کول**

- کور يا اپارتمان د اختر فضا سره سينګار کړئ (سپېنې جامې، خوشبويي، د ماشومانو لپاره تحفې).
- يو ځانګړی، خوندور خواړه جوړ کړئ (لکه پلو، کباب، کُنافه، يا خپل دوديز خوراکونه).
- د کورنۍ غړو ته اختر مبارکي ووايئ، دوی ته تحفې ورکړئ، او ماشومانو ته اختری.

**۴. آنلاين اړيکي**

- د خپلوانو او دوستانو سره د ويډيو کال يا پيغامونو له لارې اختر ولمانځئ.
- د ټولنيزو شبکو له لارې د اختر مبارکۍ شريکول هم يو ډول اتصال دی.

**۵. اختر ته اسلامي روحيه ورکول**

- د ابراهيم (ع) قرباني کيسه له ماشومانو سره شريکه کړئ.
- د سورت کوثر يا حج تلاوت وکړئ، معنی يې تشريح کړئ.
- د صدقې، خيرات او مرسته کولو يادونه او عمل وکړئ.

**٦. ټولنيز فعاليتونه که شوني وي**

- که د افغان يا مسلمانانو ټولنه هلته وي، د اختر يوه غونډه يا پکنيک تنظيم کړئ.
- د ځايي غير مسلمان ګاونډيانو ته يو څه خوراکي شيان ورکړئ، دا ښه پيغام رسونه هم ده.

**۷. خپل ماشومان روزئ**

- ماشومانو ته د اختر اهميت وروښايئ.
- هغوی ته د قربانۍ فلسفه په ساده ژبه بيان کړئ.

**پايله:**

که څه هم په غير اسلامي هېواد کې د اختر رسمي فضا نشته، خو د نيت، تنظيم، کورني چاپېريال، او معنوي تدبيرونو له لارې دا اختر هم پياوړی، بامعنی او خوشحالي راوړونکی کېدلی شي.

# The Best Days of the Year: The Day of Arafah & Eid Al-Adha

On the Mount of Mercy in Arafah

God has created some times better than others in the sense that the reward for good deeds done during these times is multiplied many times. This encourages His servants to do more righteous deeds and to worship Him more in order to ready themselves for death and the Day of Judgment. Muslims believe that the best such season of worship is the first ten days of the Islamic month of Dhul-Hijjah.

These days, which include the Day of Arafah and Eid Al-Adha, bring the Muslims an opportunity to correct their faults and make up for any shortcomings. The blessings of Hajj spill over to those who are not making the pilgrimage if they fast on Dhul-Hijjah 9, the Day of Arafah. On this day, also known as the Waqfah (standing), the pilgrims stand on and around the Mount of Mercy to ask Allah's forgiveness. When the sun sets that day, all their past sins are forgiven.

If those who are not making Hajj fast on that day, the sins of two years (the past and the coming one) are forgiven. The following day, Dhul-Hijjah 10, begins a three-day Islamic public celebration known asEid Al-Adha, the Eid of the Sacrifice. In some places it is known by the Turkish name bairam;Eid Al-Adha is the Greater Bairam.

Celebrations and Prayers

Eid Al-Fitr The Story of Ibrahim's Sacrifice This eid commemorates the willingness of Prophet Ibrahim (Abraham) to sacrifice his son Ismail (Ishmael—peace and blessings be upon them both). Muslims should reflect on their own commitment to Allah and strive to strengthen their relationship with their Creator. Muslims celebrate this Eid by attending special congregational Prayers followed by a sermon (khutbah) in the morning. It is a confirmed sunnah to attend these Prayers, which are usually held outside the mosque. The form of the Prayer is the same as that of Eid Al-Fitr Prayer and is also preceded by the Takbir.

Muslims are recommended to perform ghusl (complete ritual bathing) and put on their best clothes beforehand. Women who cannot perform the ritual Prayer should attend and sit on the sides or in back so that they may share in the joy of that day. Afterwards, or on either of the next two days, many Muslims sacrifice a sheep or goat, or seven people may share in sacrificing a cow.

The sunnah is to give one-third of the meat to the poor, one-third to friends and relatives, and to keep one-third for one's own family. The majority of scholars agree that this sacrifice is not obligatory (for those who can afford it), but is a confirmed sunnah.

Pilgrims in the state of ihram (consecration) are forbidden—among other things— to clip their nails or cut or pluck their hair. Those who do not perform Hajj but who plan to sacrifice an animal on eid should likewise abstain from clipping their nails or cutting or plucking their hair from the first day of Dhul-Hijjah until they sacrifice. The majority of scholars agree that this abstention is not obligatory, but it is a confirmed sunnah and highly recommended. During these ten days, Muslims should also recite Allah's praises often with the phrases "subhan Allah" (glory be to Allah), "al-hamdu lillah" (all praise to Allah), "Allahu Akbar" (Allah is Greatest), and "la ilaha illa Allah" (there is no god but Allah). The Day of Arafah is an excellent time to repent and return to Allah. Eid Al-Adha, the best day of the year, combines two great acts of worship, salah (ritual Prayer) and sacrifice. Together, they offer Muslims the chance to become closer to their Creator and Lord.

By AElfwine Mischler



# Eid al-Adha: What is Qurbani? Why Muslims sacrifice livestock, explained

For Muslims around the world Eid al Adha, Arabic for ‘festival of scarifice’ takes place as the Hajj pilgrimage concludes.
During this time, Muslims will arrange for the sacrifice of an animal to mark the celebration, which commemorates a significant quranic story.
Qurbani, also referred to as Udhiyya in Arabic, means sacrifice and is an important rite in the Islamic religion.
It is a tradition packed with symbolism and mandatory for every believer who can afford to do so.
While many critics of the religion have condemned the practice, for Muslims the act represents an absolute commitment to God and also an opportunity for charity, as a significant portion of the meat from slaughtered animals is designated for distribution among the poor.

**Why do Muslims sacrifice livestock?**

The sacrifice of livestock, including sheep, goats and cows, during Eid al-Adha commemorates a story mentioned in the Quran, in which the Prophet Ibrahim (Abraham in the biblical tradition) was commanded by God to sacrifice his son Ismail.
For Muslims, the commandment was an ultimate test of faith and of obedience to God, which ended with the angel Gabriel replacing Ismail with a ram at the last moment.
The story is commemorated by Muslims in the form of the Qurbani, which is obligatory for every Muslim who can afford to do it.
Muslims believe that the tradition is a “sunnah” practice, which means it was first initiated by the Prophet Muhammed himself.
In Islam, there are specific guidelines on the practice of sacrificing animals, ensuring that it is done in an ethical and controlled manner.
The rules cover the species of the animal, the quality of its life and how it is killed, ensuring that it does not suffer for a long period of time and is done in accordance with halal regulations.



According to most Islamic schools of thought, the act of qurbani is compulsory, whereas for others, it is strongly recommended, though not mandatory. Regardless, for all Muslims, the act carries with it great spiritual significance and is considered a blessing.

**What does Qurbani mean?**

The word qurbani derives from the Arabic word “qurban”, which has its roots in the word “qurb”, meaning “closeness”.
Muslims therefore believe that the act of sacrifice is something that helps them grow closer to God and strengthens their faith.
The Prophet Ibrahim’s commitment to his task also represents the idea of absolute submission to God’s will; a theme that reoccurs throughout the Quran.
In Islamic tradition, the act of submission is not just about adhering to a specific rule but about entrusting a person’s fate to God.
There are a number of different variations of the word qurbani used around the world, including the widely used “udhiyaa”, which literally translates to “sacrifice”.
All Muslims who are eligible to pay zakat - obligatory giving ( literally “purification”) - also have to pay for qurbani. However some Islamic schools of thought allow one person in a household to make the payment on behalf of the other members of the family.

**When does the sacrifice happen?**



Muslims will carry out the sacrifice of livestock during Eid al-Adha, one of the two Islamic festivals, or “Eid”, which occur every year.
Eid al-Adha takes place between the 10th and 12th of the Islamic month of Dhul Hijjah, which is the last month of the lunar calendar.
The sacrifice of animals and Eid al-Adha coincides with the end of the Hajj pilgrimage, which is one of the five pillars of Islam and obligatory on Muslims to perform if they are financially and physically able to do so.
Eid al-Adha marks the completion of the Hajj pilgrimage and is a time of celebration for Muslims.
If the sacrifice of an animal is done before Eid al-Adha, it is considered to be charity, rather than the obligatory act of qurbani.

For those who have missed the qurbani, they can make it up the following year by sacrificing another animal, or by offering the value of one sheep or goat and giving it to the poor.

**What happens during qurbani?**

Typically, the sacrifice of the animal is done before the early morning congregational Eid al-Adha prayer.



Across the world, slaughterhouses prepare for the event, and prepare the different cuts of meat ready to be distributed.
According to Islamic tradition, the sacrifice must be done in a manner that causes least harm or distress to the animal as possible. This is why animals are not slaughtered in front of each other, dull knives can not be used and the name of God must be mentioned.

**What is done with the sacrificed animal?**

Muslims are obligated to divide the sacred animal into three parts to be distributed. One portion is to be shared amongst the person’s family, the other is for relatives and friends, and the third is to be given to the disadvantaged.
The dividing and distributing of the meat is an integral part of qurbani, and teaches Muslims the importance of their duty and service to others and the wider Muslim community.
As mentioned above, some Muslims may choose to donate their entire portion of meat to the disadvantaged, with many arranging for this to be done in developing countries or where there is significant food insecurity.
There are certain requirements, which should be met when it comes to sacrificing livestock. The animals must be healthy and free of disease; they must not be excessively thin, blind, or too weak to support their own weight.
Sheep and goats should be at least one year in age when sacrificed, while cows should be at least two and camels should be at least five.
source: Middle East Eye

HAYAT FOUNDATION

# Put your Qurbani IN SAVE HAND

**Donate your 2025 Qurbani To returnees from Pakistan in Torkham, widows, children, orphans, and disabled.**



| Medium Size Sheep | Medium Size Cow | Medium Size Cow |
|---|---|---|
| £130 | £560 | £80 |
| 23-25 kg meat | 120 kg meat | 1/7 Cow |

**ACCOUNT DETAILS**

Ac. Name : HAYAT FOUNDATION
Sort Code : 30-54-66
Account/No : 12161968
Bank Name :Lloyds BANK PLC Harrow
Reference: Qurbani 2025

**Scan for Pay Online**

**CONTACT US**

Visit Our Website
www.hayatfoundation.uk

#QURBANI 2025

تماس با ما

media@hayatfoundation.org.uk
hayatfoundationuk
+44 7588 811824 - +44 7508 848893
www.hayatfoundation.org.uk

ماهنامه
حراء
Monthly
Hera
میاشتنی

ماه نامهٔ
تربیتي
علمي
و دیني